# دَ عبدالرحمان بابا کلام او قرآن

(The poetry of Abdur Rehman Baba with reference to the Holy Quran)

Dr. Zar Muhammad sangar[1]
zm.sangar@gmail.com
0332 9404310
Dr. Abul Nafi[2]
E.mail abdulnafi653@gmail.com
Phone# 03347101244

Issn 2304 1498

**Abstract:**

**In a garden we find a variety of flowers and trees. Every flower and tree has its special flavor, style and its own place and importance. Every flower differs from the other not only in its flavor and color but also in fragrance. This very variety of color and fragrance is the proof of the existence of the garden.**

**In the same fashion, the poets are like flowers of the garden. They have different personalities, life styles and they belong to different school of thoughts. Every poet has a place and status of his own. Poets are famous for their different characteristics like few ones are famous for romanticism and other are for classicism, odes, ballads, chivalric poetry and some are known for their funny poetry. There are revolutionary poets on one hand, and on the other hand we have religious and mystic poets. Being a Muslim, poets take the morality and in durability of the universe as the major theme. Convincing people towards the God, the life hereafter and to inspire them for performing good deeds is the main goal and purpose of a Muslim poet.**

**Rehman Baba is considered among the poets who have fear of Allah are filled with sincerity and feel for the people. In the current article his poetry will be analyzed with reference to the Holy Quran.**

---

[1] لېکچرار، پښتو څانګه اسلامیه کالج پوهنتون پېښور

[2] پي ایچ ډي سکالر، شیخ زاید اسلامک سنټر پېښور یونیورسټي

دا چې زۀ و تا ته وايم که ئې خدائې کا
په ايات او په حديث کښې به څرګند وی[۱]

عبدالرحمان بابا دَ عوامو او خواصو هغه مقبول او زړۀ پورې شاعر دے چې پۀ پښتنه معاشره کښې ورته ډېر دَ قدر په نظر کتلے شی او هر څوک ئې شعرونه دَ خپلو خبرو په موقع په دليل کښې پېش کوی۔ دَ دوئ مقام ، شخصيت او فکر و فن هر عام و خاص منلے دے ځکه چې عبدالرحمان بابا په حقيقی معنو کښې يو آفاقی شاعر دے۔ دوئ چې خپل په کلام کښې دَ کومو موضوعاتو ، مضامينو جدت او اجتهاد په لحاظ دَ عالمګيريت کومه دعویٰ کړې ده هغه محض دعویٰ نۀ ده بلکې دَ هغوی دعویٰ په ډېرو داخلو شهادتونو اډانه ده ۔ دَ عالمګيريت سره سره عبدالرحمان بابا يو صوفی شاعر هم وۀ۔ دَ دوئ په کلام کښې دَ دنيا نه بې رغبتی او آخرت ته دَ توجه ورکولو مضامين موجود دی۔ دوئ نۀ يواځې دَ علم او عمل بلکې دَ کسب او هنر خاوند هم وۀ۔

دَ عبدالرحمان بابا شاعری دَ سادګۍ ، روانۍ ، سلاست ، تصوف ، وعظ و پند ، صوفيانه او اخلاقی رنګونو سره سره دَ قرآن کريم دَ تعليماتو عين مطابق ده ۔ دَ دوئ دَ شاعرۍ په بې شمېره خصوصياتو کښې يو خصوصيت دا هم دے چې دا دَ يو پاك ، صفا او سپېڅلی ذهن اختراع ده۔ دَ دوئ دَ شاعرۍ اکثره حصه دَ قرآن کريم په تعليماتو او دَ هغې په ترجمانۍ مشتمله ده۔ کۀ په دې حقله دا ووئيلے شی چې دَ عبدالرحمان بابا کلام دَ قرآن کريم منظومه ترجمه ده نو بې ځايه به نۀ وی[۲] او دَ دې مونږ سره ډېر شهادتونه او دليلونه موجود دی۔

دَ عبدالرحمان بابا دَ شاعرۍ دَ دغه صفت په حقله محمد اياز شينواری وائی :

"دَ عبدالرحمان بابا مقام ډېر لوئې دے او دَ هغو شعراؤ سره سم دے چې کوم دَ قرآن پاك او دَ احادثيو نه پوره پوره خبردار دی۔ مسلمانانو ته دَ توحيد درس ورکوی او دَ مجازی بتانو رد کوی۔"[۳]

دغه شان پروفېسر فهم دل راهی دَ عبدالرحمان بابا دَ کلام په دغه اړخ داسې تبصره کوی :

"دَ عبدالرحمان بابا دَ کلام چې څوك په ژوّر نظر جاج اخلی نو هغۀ ته دا حقيقت جوتېدے شی چې عبدالرحمان بابا دَ قرآن او سنت په رڼا کښې دَ شعری ګلستان دَ زړۀ په وينو اوبۀ خور کړے دے او خپل ديوان ئې دَ حقيقت پۀ رنګارنګ ګلونو ښائسته کړے دے او دَ يوې ګلدستې پۀ سبر ئې خپل اولس ته پکښې قسما قسم ډولناك ګلونه وړاندې کړی دی۔"[۴]

کۀ مونږ دَ عبدالرحمان بابا دَ شاعرۍ پۀ دغه اړخ دَ رحمان شناسه محقیقینو تحقیق ته وګورو نو مونږ ته به ګڼ شواهد او دلائل مخې ته راشی ـ دَ عبدالرحمان بابا شاعرۍ دَ قرآن کریم پۀ رڼا کښې څنګه ده راځی۔ چې دَ دغه اړخ جاج مونږ پۀ کوټلی شهادتونو او مضبوطو دلائلو سره واخلو ـ

قرآن کریم دَ شاعرانو تقسیم دوه ډوله کړے دے ـ وړومبی هغه شاعران چې هغوی ګمراه دی او دوېم هغه شاعران چې هغوئ نېکان دی ـ دَ الله تعالیٰ ارشاد پاك دے :

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ (224) أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ (225) وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ (226) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ (227) [۵]

ترجمه : او دَ شاعرانو خبرو پسې ځی هغه خلق ، چې بې لارې دی ـ تا نۀ دی لیدلی چې دوی پۀ هر مېدان کښې سروهلی ګرځی او دا چې هغوی وائی کوم چې نۀ کوی ـ مګر کومو خلقو چې یقین راوړو او کارونه ئې وکړل نېك او یاد ئې وکړو دَ الله تعالیٰ ډېر او بدله ئې واغسته دَ هغې نه وروستو چې پۀ هغوی ظلم وشو او اوس به معلوم کړی ظلم کوونکی چې په کوم اړخ به اوړی ـ [۶]

په دې اٰیتونو مبارکو کښې الله تعالیٰ وړومبے دَ شاعرانو تقسیم دوه ډوله کوی ۱ـ هغه شاعران چې هغوی ګمراه دی ـ ۲ـ هغه شاعران چې هغوی نېکان دی ـ

وړومبے دَ هغه شاعرانو ذکر کوی چې ګمراه دی ـ دَ هغوئ درې صفتونه ذکر کوی ـ

۱ـ ګمراهی :

وړومبے صفت دَ دغه قسم شاعرانو دا دے چې دوی به بې لارې او ګمراه وی او دا په دې اٰیت مبارك کښې ذکر کوی :

وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ(224) [۷]

او دَ شاعرانو خبرو پسې ځی هغه خلق چې بې لارې دی ـ [۸]

په دې ایت کښې لفظ "الغاون" راغلے دے چې دا دَ غاوی جمع ده ـ غاوی چا ته وائی : المعجم الوسیط ذکر کوی :

غویٰ یغوی غیًّا و غوایةً فهو غاوٍ أیْ : أمعن فی الضّلال ج غواة و غاوون ـ [۹]

یعنې چې ګمراهۍ کښې ډېر ژوَر تلے دے-

عبدالرحمان بابا دَ ګمراهۍ دَ دغه صفت نه لرې وو ـ لکه هغه پۀ خپل کلام کښې داسې وائی :

کۀ چا لار دَ عاشقۍ وی ورکه کړې — زۀ رحمان دَ ګمراهانو رهنما

یم(۱۰)

عبدالرحمان بابا یو نېکوکار ، پاك ذهنه او پهٔ قرآن او حدیث عمل کونکے وهٔ ـ لکه پهٔ خپل کلام کښې وائی :

| | |
|---|---|
| دنیا نهٔ ده هغه دین دے | چې له نهی وی سېوا |
| وَ طاعت وَ ته ولاړ وی | همېشه تړلې ملا |
| لهٔ حرامو ئې پرهېز وی | بیا ئې شپول وی پنج بنا |
| کلمه ئې وی قبوله | هم پهٔ جهر هم خفا |
| دَ دنیا دَ کار دَ پاره | فرض نمونځ نهٔ کاندی قضا |
| هم صائم دَ رمضان وی | هم زکوٰة کاندی ادا |
| کهٔ ئې توان دَ حج رسېږی | حج هم وکه پسې بیا |
| دا پینځهٔ بنا دَ دین دی | چې بیان ئې وکړو ما(۱۱) |

دغو شعرونو کښې عبدالرحمان بابا دَ دین تعریف کوی چې دین عبارت دے دَ حلال حرامو نه او دَ اوامرو او نواهیو نه۔ په امرونو دَ الله تعالیٰ به عمل کوی او دَ نواهیو نه به ځان ساتی۔ دې سره سره دَ پنج بنا ذکر کوی او دَ یو صحیح او مخلص مسلمان یوه نقشه پېش کوی۔

۲۔ پهٔ عبثو کښې به لګیا وی۔

أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ (225) (۱۲)

ترجمه : تا نهٔ دی لیدلی چې دوی پهٔ هر مېدان کښې سروهلی ګرځی۔(۱۳)

دَ یهیمون معنی څهٔ ده ؟ ابن کثیر رحمه الله دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کوی :

فی کلّ لغوٍ یخوضون. (۱۴)

یعنې چې لغو ، عبث او بې فائدې خبرو کښې ننوځی چې دَ هغې څهٔ فائده نهٔ وی۔ نهٔ دَ دنیا او نهٔ دَ آخرت۔ بلکې دَ آخرت زیان او نقصان وی۔ دَ دې نه مراد مونږ عشق مجازی اخستے شو ځکه چې عشق مجازی هم داسې یو څیز دے چې دَ دې په وجه سړے دَ دین نه خو وځی وځی ، خو ورسره دَ دنیا دَ کارونو نه هم وځی۔ مطلب دا دے چې عشق مجازی کوی او دَ محبوب مجازی پهٔ یاد کښې پهٔ هره لاره ، کنده او لوړه ژوره کښې پرېشانه وی۔

عبدالرحمان بابا عشق مجازی کړے دے او کنه؟دا یو حقیقت دے چې عبدالرحمان بابا دَ عشق مجازی دَ مرحلې نه وتلے دے ځکه چې په دیوان کښې ئې ځنې داسې شعرونه هم شته چې دَ هغې اطلاق په عشق مجازی باندې کېدے شی ۔ هم دغه خبرې طرفته مرحوم دوست محمد خان کامل مومند اشاره کوی :

"خو ډېر اشعار ئې په دیوان کښې داسې هم شته چې لکه دَ نورو صوفی شاعرانو پۀ بعضو شعرونو کښې ئې دَ مجاز رنګ لیدۀ شی۔"[۱۵]

او حمزه شنواری هم ورته دغه ضمن کښې اشاره کړې ده :

"دَ دې نه علاوه (کامل صاحب) دَ عبدالرحمان بابا پۀ کلام کښې هغو شعرونو ته هم اشاره کړې ده چې کټ مټ دَ مجاز دَ معشوقو سره تعلق لری او پۀ حقیقی معشوق ئې په هېڅ ډول تحمل نۀ شی کېدے۔ دَ کامل صېب دا وضاحت په حقیقت مبنی دے او مونږ دا تصور هېڅ کله نۀ شو کولے چې عبدالرحمان بابا پۀ حېث دَ یو انسان او یو رنګین غزل ګو په خپل ټول عمر کښې هم دَ مجاز مینې هغه ښکلی ښکالو نۀ وی محسوسه کړې کومه چې دَ حقیقی مینې دَ تکمیل یوه لویه ذریعه کېدے شی۔"[۱۶]

دا خبره یقینی طور مونږ نۀ شو کولے چې عبدالرحمان بابا دَ سړی یا ښځې په جذباتی عشق یا حسی عشق کښې مبتلا شوے دے۔ البته په دیوان کښې ئې ځنې داسې اشعار مونږ پېش کولے شو چې پکښې دَ انسان ظاهری حسن او دَ هغې دَ ښکلا ذکر دے۔

دَ مثال په توګه دَ عشق مجازی یوه څرېکه مونږ دَ عبدالرحمان بابا په دې کلام کښې وینو :

هر سړے پۀ یوې چارې خدائې مشغول کړو زۀ مشغول کړم خدائې دَ ترکو په ثنا[۱۷]

کۀ نور خلق دَ آفتاب په رڼا زیست کا مخ دَ ترکو دے آفتاب زما دَ سترګو[۱۸]

کۀ دا نور عالم وَ بله خوا ته ګوری ما پۀ لوری دَ دلبرو نګران کړې[۱۹]

زۀ رحمان په زړۀ نرے کړم هغه جونو چې ئې ملا وی دَ وېښتۀ په دود نری[۲۰]

پۀ حملو حملو مې زړۀ اوړی نۀ پوهېږم اپریدۍ ده کۀ ختکه الغیاث[۲۱]

پۀ دې شعرونو کښې عبدالرحمان بابا دَ ترکو په ثنا مشغوله دے۔ دَ هغوی مخ دَ خپلو سترګو رڼا ګڼی او هم دَ دلبر دَ نګرانۍ دَ الله نه سوال کوی۔

دا حقیقت دے چې عبدالرحمان بابا دَ عشق مجازی دَ مرحلې نه تېر شوے دے خو پۀ دې ټینګ نۀ دے پاتې شوے ، بلکې دَ دې نه عشق حقیقی ته رسېدلے دے ځکه چې :

المجاز قنطرة الحقیقة

مجاز دَ حقیقت پُل دے۔

او دا خبره دَ هغوی دَ کلام نه معلومیږی چې دَ عبدالرحمان بابا کلام اکثره حصه په عشق حقیقی مشتمله ده۔

۳۔ دریم صفت دَ بدانو شاعرانو دا دے چې څهٔ وائی عمل پرې نهٔ کوی۔

وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ (226) (۲۲)

ترجمه : او دا چې هغوی وائی کوم چې نهٔ کوی۔(۲۳)

عبدالرحمان بابا پهٔ علم دَ عمل کولو کلکه وینا کوی او دَ هغه عالمانو بدی بیانوی چې پهٔ خپل علم عمل نهٔ کوی۔ لکه چې وائی :

علمیت دَ بې عمله عالمانو — لکه گنج دَ کتابونو پهٔ خرهٔ بار شهٔ(۲۴)

بې عمل کهٔ کتاب کیږدی پهٔ سر څهٔ شو — گو یا اېښے ئې تر پښو لاندې کتاب دے

علم وکړې هېڅ عمل ورباندې نهٔ کړې — لکه طفل هسې لوبې پهٔ کتاب کړې(۲۵)

چې دَ تن په پاکۍ پاك په زړهٔ ناپاك وی — دَ لړګیو تورے په تیکی سپاهیان دی(۲۶)

عبدالرحمان بابا دَ بې عمله عالمانو مثال دَ هغه خرهٔ سره ورکوی چې پهٔ هغهٔ کتابونه بار وی او هغهٔ ته ئې هېڅ فائده نهٔ وی۔ دا شان علم باندې دَ بې عملۍ تشبیه ئې دَ کتاب تر پښو لاندې کولو او دَ ماشومانو کتاب سره لوبې کولو سره ورکړې ده۔

قرآن کریم دَ هغه شاعرانو ذکر هم کوی چې نېکان وی او دغه شاعران دَ ګمراه شاعرانو نه جدا کوی :

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ (227) (۲۷)

ترجمه : مګر کومو خلقو چې یقین راوړو او کارونه ئې وکړل نېك او یاد ئې وکړو دَ الله تعالیٰ ډېر او بدله ئې واخسته دَ هغې نه وروستو چې پهٔ هغوی ظلم وشو او اوس به معلوم کړی ظلم کوونکی چې په کوم اړخ به آوړی۔(۲۸)

وروميے صفت دَ دوی دا ذکر کوی چې دوی به مومنان وی۔ پهٔ الله ، رسولانو ، کتابونو ، فرښتو او آخرت باندې به ئې مضبوط ایمان وی۔ لکه په دې ایت مبارك کښې الله تعالی فرمائی :

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا (۲۹)

مګر کومو خلقو چې یقین راوړو۔(۳۰)

دَ عبدالرحمان بابا عقیدې اړخ ته کۀ مونږ وګورو نو هغه یو مؤحد ، ښۀ مسلمان او په الله مضبوطې عقیدې لرونکے انسان وۀ. دَ دوی په کلام کښې توحید ، دَ محمد صلی الله علیه وسلم رسالت ، دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم صفات پۀ ښکاره ډول بیان شوی دی. لکه دَ توحید په حقله وائی :

چې دَ خدائې لۀ معرفته خبر نۀ وی هغه واړه کۀ بېدار دی هم اوده دی[۳۱]

ګوره هسې کردګار دے رب زما چې صاحب دَ کل اختیار دے رب زما
نۀ ئې هېڅ حاجت پۀ چا باندې موقوف دے نۀ دَ هېچا منت بار دے رب زما
لۀ نېستۍ ئې دَ هستۍ صورت پېدا کۀ هسې رنګ پروردګار دے رب زما

هم صانع دے دَ جمله ؤ مصنوعاتو هم سامع دَ هر ګفتار دے رب زما
کۀ ظاهر دے کۀ باطن دے کۀ مابین دے لۀ همه ؤ خبردار دے رب زما
شریك نۀ لری په خپله بادشاهۍ کښې بې شریکه شهریار دے رب زما[۳۲]

دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ رسالت ، نبوت پۀ حقله خپله عقیده بیانوی او دَ ختم نبوت دَ عقیدې اظهار کوی. نو وائی :

نبوت پۀ محمد□ باندې تمام شۀ نشته پس له محمده□ انبیاء
کۀ نبی دے کۀ ولی دے کۀ عاصی دے محمد□ دے دَ همه واړو پېشوا
چې ئې دین دَ محمد□ وی قبول کړے جنتی دے کۀ فاسق دے کۀ پارسا
محمد□ دَ ګمراهانو رهمنا دے محمد□ دے دَ ړندو د لاس عصا[۳۳]

دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم او بیا خصوصًا دَ خلفاء راشدین رضی الله عنهم باره کښې وائی :

صاحبان چې دَ ارشاد دَ مقتدا دی چار یاران دَ پاك رسول دی په رښتیا
څلور واړه څلور رکنه دَ اسلام دی دَ اسلام کوټه بې دَ دوی ده بې بقا
اصحاب دَ پاك رسول وو لکه ستوری همه واړه حق دَ لارې رهنما
چې خلاف دَ دوی له قوله له عمل کا دَ هغو خلل په دین کښې شو پېدا[۳۴]

۲۔ دوہم صفت دَ نیکانو شاعرانو دا دے چې دَ دوئ عمل به نېك وی۔ دَ دین ، شریعت او دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ طریقې مطابق به وی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

وَعَمِلُوا الصّالِحَاتِ(۳۵)

ترجمه : او کارونه ئې وکړل نېك۔ (۳۶)

عبد الرحمان بابا دَ مضبوطې عقیدې سره سره دَ نېك عمل خاوند هم وۀ۔ هغۀ خپل کلام کښې دین او شریعت باندې دَ عمل او دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ تابعدارۍ تعلیم ورکوی ۔لکه چې وائی :

محمد ﷺ دَ گمراهانو رهمنا دے          محمد ﷺ دے دَ ړندو لاسو عصا
کۀ رڼا ده پس روی دَ محمد ده          گنه نشته په جهان بله رڼا (۳۷)
پۀ طاعت پۀ عبادت مې زړۀ یخ نۀ کړو          همېشه دَ معصیت په اور کباب یم (۳۸)
نېك عمل حضور جنت دے طالع بویه          چې حاصل کا ځوك جنت په دا دنیا
نېك کردار نېك عملونه نېك خویونه          هم جنت دے هم راحت په دا دنیا (۳۹)

په دې شعرونو کښې عبد الرحمان بابا وائی چې محمد صلی الله علیه وسلم دَ گمراهانو رهمنا دے او دَ محمد صلی الله علیه وسلم سنت او طریقې دا زمونږ دَ پاره رڼا ده چې په دې عمل وکړو او نېك عمل هم وائی دې ته چې سړے دَ محمد صلی الله علیه وسلم په طریقه عمل وکړي۔

۳۔ دریم صفت دَ نېکانو شاعرانو دا دے چې الله به ډېر ډېر یادوی۔

وَذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيرًا ج(۴۰)

ترجمه : او یاد ئې وکړو دَ الله تعالیٰ ډېر (۴۱)

دَ نېك صالح او دیندار شاعر صفت دا دے چې دے بۀ هر وخت او پۀ هر حالت کښې الله تعالیٰ یادوی۔ دَ الله تعالیٰ یادَول څنگه چې پۀ ژبه کېږی نو دارنگې پۀ اندامونو هم کېږی چې هغه دَ الله تعالیٰ تابعداری کول دی۔ دَ یو شاعر او ادیب الله یادول دا دی چې دَ دۀ شاعری دَ الله تعالیٰ پۀ ثنا صفت او لویۍ مشتمله وی ۔ په هغې کښې دَ الله دَ وحدانیت دَ الله سره دَ مینې او دَ هغۀ نه ویره پۀ نظر راځی۔ دَ هغۀ کلام دَ هغۀ شاعری پۀ دغه رنگ رنگینه وی۔

لکه عبدالرحمان بابا دَ دې اظهار په خپلو اشعارو کښې په دا رقم کوی :

ګوره هسې کردګار دے رب زما — چې صاحب دَ کل اختیار دے رب زما

همګی بزرګواران چې څوك ئې وائی — خوانده دَ نانویسو صحیفو دے

تر همه ؤ بزرګوار دے رب زما — دانده دَ هر آسرار دے رب زما (۴۲)

په دعا او په درود — هر اشیا دَ حق ثناء کا

رحمان بې دَ یار لۀ ذکره — نۀ زده بل ګفت و شنود (۴۳)

په دې اشعارو کښې عبدالرحمان بابا لکه دَ یو صوفی ، په الله دَ مئین ، دَ توحید په رنګ کښې رنګ شاعر دَالله تعالیٰ حمد و ثنا کوی چې الله تعالیٰ سره دَ هر څۀ او هر قسم اختیار دے۔کۀ دنیا ده او کۀ آخرت او دا دَ قرآن کریم دَ دې ایت مبارکه ترجمه ده چې : قل إن الأمر کله لله. وو ایه چې اختیار ټول دَ الله تعالیٰ دے۔

۴۔څلورم صفت ئې دا دے چې دَ ظلم نه وروستو به بدل اخلی ۔

وَانۡتَصَرُوا مِنۡ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوا (۴۴)

ترجمه : او بدله ئې واخسته دَ هغې نه وروستو چې پۀ هغوی ظلم وشو (۴۵)

دَ دې صفت نه مراد دَ شاعر تنقیدی صفت دے۔دَ یو ښۀ او نېك شاعر یو صفت دا هم دے چې هغه به لاشعور کښې تنقید نګار وی۔هغۀ دَ دغه خاصیت پۀ بنا باندې دَ هر څۀ یوه تنقیدی جائزه اخلی ځکه چې هر یو شاعر دَ خپلې زمانې دَ تقاضو نه ښۀ خبر وی۔کۀ مونږ دَ شاعر دغې صفت ته دَ قرآن او حدیث په رڼا کښې وګورو نو مونږ ته دا واضحه کېږی چې تنقید دَ هر یو ښۀ شاعر بنیادی صفت دے او دا دَ دغه ایت مبارك نه هم واضحه ده چې نېکان شاعران هغه دی چې دَ ظلم بدله اخلی۔دَ هغۀ پۀ دور کښې چې کوم زور ، ظلم او زیاتے شروع وی دَ هغې بدله دَ قلم په ژبه اخلی۔

دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ رسالت په دَور کۀ مونږ نظر واچوؤ نو دا خبره مونږ ته په ګوته کېږی چې ډېر صحابه کرام رضی الله عنهم شاعران داسې وو چې هغوی به دَ اسلام دفاع ، دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ عزت او ناموس دفاع او دَ کافرو دَ اشعارو جواب په ډېر ښۀ شان سره کولو۔څنګه چې دَ دې ذکر په دې حدیث مبارك کښې راځی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضی الله عنهم ته وفرمائیل چې : " کومو خلقو دَ الله او دَ رسول صلی الله علیه وسلم مدد په خپلو وسلو کړے دے ، هغوی څۀ شی بند کړی دی چې په

ژبو باندې دَ هغوی مدد نهٔ کوی۔ حضرت حسان رضی الله عنه هغه وخت ووئیل چې : زهٔ دې خدمت ته تیار یم۔"(۴۶)

لکه هغوی دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دفاع کښې داسې وائی :

أَلا أَبلغ أَباسفیان عنّی مغلغة فقد برح الخفاء

بأنّ سیوفنا ترکتك عبدا و عند الدار سادتها الأماء

هجوت محمدا فأجبت عنه و عند الله فی ذاك الجزاء

أتهجوه ولست له بکفٍّ؟ فشرّکما لخیرکما الفداء

فإنّ أبی و والدتی و عرضی لعرض محمد منکم وقاء(۴۷)

ترجمه :"ابوسفیان ته زما دَ طرف نه دا پېغام ورسوه چې راز ښکاره شوے دے ، زمونږ تورو تاسو ذلیله کړی یې او غلامان ئې درنه جوړ کړی دی او دَ عبدالدار قبیلې قیادت دَ وینځو په لاسونو کښې دے۔ تا دَ محمد صلی الله علیه بدګویی وکړه او ما دَ هغې جواب درکړو ، اوس دَ دې بدله به الله تعالیٰ ښخه ملاوے ږی ، تهٔ دَ هغوی بدګویی کوې حال دا دے چې تهٔ دَ هغوی سره برابر نهٔ ئې ؟ تاسو دواړو کښې چې کوم دَ ټولو نه بد دے هغه دَ ټولو نه بهترین سړی باندې قربان دے۔ زهٔ ، زما پلار ، زما مور او عزت دَ محمد صلی الله علیه وسلم عزت بچ کولو دَ پاره ډال دے۔"

پهٔ پښتو ادب کښې دَ عبدالرحمان بابا پهٔ کلام کښې تنقید ډېر په ارزښت توګه موجود دے۔ بل یو شاعر هم دَ هغهٔ پهٔ دې کښې مقابله نهٔ شی کولے۔ هغهٔ دَ خپلې معاشرې ، زمانې او چاپېرچل نه ښهٔ خبر وهٔ او دَ هغهٔ په زمانه کښې چې کوم ظلم او زیاتے کېدلو پهٔ هغې ئې ښهٔ نظر وهٔ۔ هغهٔ هر یو کس ته کهٔ هغهٔ ملا وهٔ کهٔ امی ، کهٔ شاه وهٔ کهٔ ګدا ، کهٔ امیر وهٔ کهٔ غریب دَ هر یو غلطی ئې هغهٔ ته په ګوته کړې ده۔

دَ عبدالرحمان بابا په دور کښې مغلو پهٔ پښتنو زور ظلم شروع کړے وهٔ۔ دَ هغې ظلم مخ نیوے کهٔ خوشحال بابا دَ تورې په ذریعه کړے وهٔ نو عبدالرحمان بابا قلم ته لاس کړو او دَ مغلو خنجر ئې پهٔ خپل قلم مات کړهٔ۔ لکه چې وائی :

پهٔ سبب دَ ظالمانو حاکمانو
کور او ګور او پېښور درې واړه یو دی(۴۸)

اورنګزېب بادشاه چې دَ مغلو دَ خاندان نه وۀ ، هم زور ظلم شروع کړے وۀ ـ هغۀ نه صرف خپل پلار شاهجهان دَ تورو تمبو شا ته کړو بلکې خپل ورونړه داراشکوه ، شاه شجاع او مراد بخش ټول ئې دَ تېغ او تورې تېر کړل ـ عبدالرحمان بابا پۀ دغه ظلم کله چپ پاتې کېدے شو ـ هغۀ وائی :

اورنګزېب هم يو فقير وۀ
چې ټوپۍ ئې وه په سر

چې فلك ئې يارى وکړه
نور ئې ملك کړ مسخر

ګوره څۀ چارې ئې وکړې
په عيال دَ خپل پدر

وار په وار ئې تر تېغ تېر کړ
دَ خُرم تمام ټبر

يو ټبر دَ خُرم څۀ وۀ
دروت عالم ئې کړۀ ډبر

هم ئې هند په ډکه واخست
هم کابل هم پېښنو[۴۹]

شاه عالم اعظم وګوره
چې ئې سخا کړۀ په خونونو واړه ملك دَ هندوستان[۵۰]

لنډه دا چې قرآن کريم دَ شاعرانو کوم دوه قسمه ذکر کړی دی ،په هغې کښې دَ ګمراه شاعرانو چې کوم صفات ذکر دی دَ عبدالرحمان بابا شاعری دَ هغې نه خالی ده او په هغې کښې چې دَ نېکانو شاعرانو کوم صفات ذکر دی هغه ټول دَ عبدالرحمان بابا په ذات او شاعرۍ کښې زښت موجود دی ـ چې دَ عبدالرحمان بابا شعر او ادب ناوې ته يوه نوې ښکلا ورکوی او دَ دوئ شاعری ئې دَ عامو خلقو سره سره په علماء کرامو ، نېکانو او بزرګانو په نظر کښې هم اوچتې درجې ته رسوی ـ

## حوالہ جات(References) :


۱۔بابا عبدالرحمان ، دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۹۲۔مطبوعہ ۲۴ دی مال پشاور صدر ۱۹۸۴ء

۲۔ درې میاشتینۍ تاترہ اپریل – جون ۲۰۰۳ رحمان بابا نمبر ص ۱۸۷۔ مطبوعہ پښتو ادبی بورډ پېښور

۳۔شینواری ، محمد آیاز ، اووۀ ورځنۍ غنچہ ص ۸ ، ۹ ، ۱۹۲۱ء

۴۔راھی ، فھم دل ، پروفیسر ، عارف رحمان ص ۱۲۲

۵۔الشعراء۔ ۲۲ -۲۲۳۔۲۲۲

۶۔ شفیع محمد ، مفتی ، مترجم سیف الحنان موسیٰ زی، معارف القرآن ، ج ۱۹ ص ۱۵۲ ، ۱۵۳ ۔ مطبوعہ زیب آرټ پبلشرز پېښور۔

۷۔الشعراء۔ ۲۲ -۲۲۳

۸۔ شفیع محمد ، مفتی ، مترجم سیف الحنان موسیٰ زی، معارف القرآن ، ج ۱۹ ص ۱۵۲۔ مطبوعہ زیب آرټ پبلشرز پېښور۔

۹۔انیس ، ډاکټر ابراھیم ، المعجم الوسیط ج ۲ ص ۲۲۷ ۔مطبوعہ احیاء التراث العربی ، بیروت ، لبنان ،۱۹۷۲ء

۱۰۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۱۴۲۔مطبوعہ ۲۴ دی مال پشاور صدر ۱۹۸۴ء

۱۱۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۱۲

۱۲۔الشعراء۔ ۲۲ -۲۲۴

۱۳۔معارف القرآن پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۲

۱۴۔ ابن کثیر ،حافظ ، اسماعیل ، عماد الدین ، تفسیر القرآن العظیم ج ۳ ص ۴۲۷ ۔ مطبوعہ دارالریان ، بیروت لبنان ، ۲۰۰۳ء

۱۵۔کامل ، دوست محمد خان ، رحمان بابا ، ص ۲۴۷ ۔مطبوعہ دانش خپرندویہ ټولنہ ۲۰۰۴ء

۱۶۔کامل ، دوست محمد خان ، رحمان بابا ، ص ۴۱

۱۷۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۱۹

۱۸۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۱۷۱

۱۹۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۳۵۲

۲۰۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۵۰

۲۱- دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۲

۲۲۔الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۵

۲۳۔معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۲

۲۴۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۴۲

۲۵۔دَ رحمان بابا کلیات ص ۳۴۷

26- دَ رحمان بابا کلیات ص۲۵۹

۲۷۔الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۷

۲۸۔معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۳

۲۹.الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۷
۳۰.معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۳
۳۱.دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۲۴
۳۲.دَ رحمان بابا کلیات ص ا
۳۳.دَ رحمان بابا کلیات ص ۲-۳
۳۴.دَ رحمان بابا کلیات ص ۳-۴
۳۵.الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۷
۳۶. معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۳
۳۷ دَ رحمان بابا کلیات ص۳
۳۸.دَ رحمان بابا کلیات ص ۱۴۳
۳۹.دَ رحمان بابا کلیات ص ۵۳
۴۰.الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۷
۴۱.معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۳
۴۲.دَ رحمان بابا کلیات ص ۱
۴۳.دَ رحمان بابا کلیات ص ۷۷
44.الشعراء۔ ۲۲ - ۲۲۷
۴۵.معارف القرآن ، پښتو ج ۱۹ ص ۱۵۳
۴۶.الحدیث ص
۴۷.دیوان حسان
۴۸.دَ رحمان بابا کلیات ص ۲۲۳
۴۹.دَ رحمان بابا کلیات ص ۵۳
۴۹.دَ رحمان بابا کلیات ص ۸۳
۵۰.دَ رحمان بابا کلیات ص ۷۷